# هيڅوک بايد له درې لوټو نه په کمو ځان وچ نه کړي

له سلمان رضي الله عنه څخه روات دی وايي چې: مشرکينو مونږ ته وويل چې:زه ستاسې ملګری وينم چې تاسو ته حتی د قضای حاجت زده کړه درکوي، هغه وويل: هو همداسې ده هغه موږ منع کړي يو چې زمونږ څخه دې يو تن په ښي لاس استنجا وکړي، يا دا چې د حاجت پر مهال قبلې ته مخ کړي، او لدې يې منع کړې چې يو ثوک ځان په خوشايي او هډوکي پاک کړي او فرمايلي يې دی چې: « هيڅوک بايد له درې لوټو نه په کمو ځان وچ نه کړي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

سلمان فارسي رضي الله عنه ويلي چې: مشرکانو به موږ ته په ريشخند سره ويل: ستاسو نبي تاسو ته هر شی ښودلی دی، تر دې چې څنګه د تشو او ډکو متيازو پر مهال حاجت رفع کړئ. سلمان وويل: هو، مونږ ته يې د قضای حاجت آداب ښوولي؛ لدې څخه يو دا دی چې هغه صلی الله عليه وسلم مونږ له دې منع کړي يو چې له قضای حاجت نه وروسته په ښي لاس سره ځان پاک کړو ترڅو له نجاست څخه وساتل شو او د لاس درناوی وساتل شي، يا دا چې کعبې لور ته د تشو او ډکو متيازو پر مهال مخ کړو، او لدې يې منع فرمايلې ده چې ثوک په ځارويو په خوشايو، فاضله موادو او هډوکو ځان وچ کړي، او دا چې حاجت رفع کوونکی په ځان پاکوونه کې له دريو کاڼو په کمو بسنه ونه کړي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10048

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee